الأذكار التي تقال صباحا ومساء - **بشتو**

# هغه اذکار

## چې سبا او ماښام ویل کیږي

دغه لیکنه محمد بن صالح العثیمین په ۲۰-۱-۱۴۱۸هـ کې لیکلې ده.

بيان الإسلام
Bayan AL-Islam

المحتوى الإسلامي

---

يم او زه ستا په هوکړې او وعدې باندې تر هغه حده پابند يم چې زه يې توان لرم، زه له تا څخه پناه غواړم له هر هغه څه چې ما کړي دي، پر ما باندې ستا د احسان اعتراف کوم، او په خپله ګناه اقرار کوم، نو ما ته بخښنه وکړه، ځکه چې له تا پرته بل څوک ګناهونه نه بخښي"

«اللهم فاطر السماوات والأرض. عالم الغيب والشهادة. ربَّ كل شيء ومَلِيكه. أشـــهد أن لا إله إلا أنت. أعوذ بك من شر نفسي ومن شر الشيطان وشركه وأن أقترف على نفسي سوءاً أو أجُرَّه إلى مسلم»

"اې الله د آسمانونو او ځمکې پیدا کوونکی ربه! په پټو او ښکاره و پوه ذاته، د هر شي څېښتن او مالک، زه ګواهي ورکوم چې پر حقه بل معبود نشته دی مګر ته يې، زه پر تا د خپل نفس له شر څخه چې په بدۍ امر کوونکی دی پناه نيسم او پر تا د شيطان له شر او شرک څخه پناه نيسم يعنې چې شر او شرک کولو ته مې وبلي او پر تا پناه نيسم لدې څخه چې په خپله بدي وکړم او يا بل مسلمان ته د بدۍ رسولو سبب جوړ شم"

«اللهم إني أصبحت أُشـــهدُك وأشـــهد حملة عرشك وملائكتك وأنبيـــاءك وجميع خلقك بأنك أنـــت الله لا إله إلا أنت وأن محمدًا عبدك ورسولك»

(أربع مرات)

"یا الله! ما سبا کړه، زه پدې خبره تا ګواه ګرځوم او ستا د عرش پورته کوونکي، او نورې ټولې پرښتې او ستا پیغمبران او ستا ټول مخلوقات ګواه ګرځوم چې بېشکه همدا ته الله يې؛ نشته دی بل معبود په حقه سره مګر همدا ته يې، او پدې چې محمد صلى الله عليه وسلم ستا بنده او ستا رسول دی"

«اللهم إني أمسيت...»

او بېګا مهال (به وايي): يعنې د (اللهم إني أصبحتُ) پر ځای به (اللهم إني أمسيت..) وايي. تر پای پورې... څلور ځلې

«لا إله إلا الله وحـــده لا شريك له. له الملك وله الحمد. وهو على كل شيء قدير»

(مائة مرة) في الصباح أو المساء)

"د الله پرته بل معبود نشته هغه يو دی شريک نه لري، د هغه لپاره پاچاهي ده او د هغه لپاره ستاينه ده، او هغه په هر څه قادر دی" (سل ځلې) سبا او بېګا

---

«حسبي الله لا إله إلا هو عليه توكلت وهو رب العرش العظيم»

(سبع مرات)

"الله کافي دی، نشته دی هېڅ لايق د عبادت مګر هغه دی، خاص په هغه باندې ما توکل کړی دی او هم هغه د عظيم عرش مالک دی"

ووه ځلې

«سبحان الله وبحمده» (مائة مرة) في الصباح أو المساء. أو فيهما جميعًا

"د الله تعالى پاکي بيانوم او ستاينه يې کوم"
(سل ځلې) سبا او يا بېګا. او يا په دواړو وختونو کې

«أستغفر الله وأتوب إليه» (مائة مرة)

"د الله تعالى څخه بخښنه غواړم او هغه ته توبه وباسم"

سل ځلې

دا هغه څه وو چې الله تعالى يې ليکل آسان کړل، له الله تعالى څخه سوال کوم چې خلکو ته پرې فايده ورسوي

دغه ليکنه محمد بن صالح العثيمين په 1418120هـ کې ليکلې ده.

# هغه اذکار

## چې سبا او ماښام ويل کيږي

---

تنشر الإسلام بأكثر من 100 لغة

بيان الإسلام
Bayan AL-Islam
تعرف على الإسلام

موسوعة الأحاديث النبوية
HadeethEnc.com
موسوعة تضم ترجمات للأحاديث النبوية وشروحها بعدة لغات

موسوعة القرآن الكريم
QuranEnc.com
موسوعة تضم تفاسير وتراجم موثوقة لمعاني القرآن الكريم

رقم الإيداع: 1445/22381

Ps312-t3

بيان الإسلام
Bayan AL-Islam

مؤلفات فضيلة الشيخ العلامة محمد بن صالح العثيمين رحمه الله تعالى

جمعية خدمة المحتوى الإسلامي باللغات

# هغه اذکار

## چې سبا او ماښام ویل کیږي

دغه لیکنه محمد بن صالح العثیمین په ۲۰-۱-۱۴۱۸
هـ کې لیکلې ده.

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡحَيُّ ٱلۡقَيُّومُۚ لَا تَأۡخُذُهُۥ سِنَةٞ وَلَا نَوۡمٞۚ لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ مَن ذَا ٱلَّذِي يَشۡفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذۡنِهِۦۚ يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡۖ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيۡءٖ مِّنۡ عِلۡمِهِۦٓ إِلَّا بِمَا شَآءَۚ وَسِعَ كُرۡسِيُّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَۖ وَلَا يَـُٔودُهُۥ حِفۡظُهُمَاۚ وَهُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡعَظِيمُ ٢٥٥﴾ البقرة: 255

﴿الله (چې دی) نشته هېڅ لایق د عبادت مګر هم دی دی، همېشه ژوندی دی، د ټول عالــم انتظام کوونکی دی، پر ده نه پر کالي راځي، او نه خوب، خاص همده لره دي هغه څه چې په آسمانونو کې دي او هغه څه چې په ځمکه کې دي، څوک دی هغه کس چې د ده په وړاندې به ســفارش کوي مګر د ده په اجازت سره؟ هغه پوهېږي پر هر هغه څه چې د دوی په وړاندې دي او پر هر هغه څه چې له دوی وروسته دي، او دوی (مخلوق) د هغه له علم نه هېڅ شی هم نشي راګېرولی، مګر هغه څه چې هغه (الله) یې وغواړي، د هغه کرســی آســمانونه او ځمکه راځای (راګېر) کړي دي او د دې دواړو ساتنه هغه (الله) نه ستړی کوي، او هم هغه ډېر اوچت، ډېر لوی دی.﴾ آية الكرسي 255 البقرة.

﴿ءَامَنَ ٱلرَّسُولُ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡهِ مِن رَّبِّهِۦ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَۚ كُلٌّ ءَامَنَ بِٱللَّهِ وَمَلَٰٓئِكَتِهِۦ وَكُتُبِهِۦ وَرُسُلِهِۦ لَا نُفَرِّقُ بَيۡنَ أَحَدٖ مِّن رُّسُلِهِۦۚ وَقَالُواْ سَمِعۡنَا وَأَطَعۡنَاۖ غُفۡرَانَكَ رَبَّنَا وَإِلَيۡكَ ٱلۡمَصِيرُ ٢٨٥ لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفۡسًا إِلَّا وُسۡعَهَاۚ لَهَا مَا كَسَبَتۡ وَعَلَيۡهَا مَا ٱكۡتَسَبَتۡۗ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذۡنَآ إِن نَّسِينَآ أَوۡ أَخۡطَأۡنَاۚ رَبَّنَا وَلَا تَحۡمِلۡ عَلَيۡنَآ إِصۡرٗا كَمَا حَمَلۡتَهُۥ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِنَاۚ رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلۡنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهِۦۖ وَٱعۡفُ عَنَّا وَٱغۡفِرۡ لَنَا وَٱرۡحَمۡنَآۚ أَنتَ مَوۡلَىٰنَا فَٱنصُرۡنَا عَلَى ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡكَٰفِرِينَ ٢٨٦﴾ البقرة: 285-286.

﴿رسول پر هغه څه ایمان راوړی دی؛ چې په ده باندې د خپل رب له جانبه نازل کړی شوی دی او مومنانو هم. ټولو ایمان راوړی دی په الله باندې او د هغه پر ملایکو او د هغه پر کتابونو او د هغه په رسولانو باندې (او وایي) مونږ د هغه (الله) په رسولانو کې د هیچا په منځ کې توپیر نه کوو). او وایي: مونږ واورېدل او مونږ خبره ومنله (مونږ) ستا (نه) بښنه (غواړو) اې زمونږه ربه! او خاص تا ته بېرته درتګ دی). لا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفساً إِلا وُسعَهَا لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا اكْتَسَبَتْ رَبَّنَا لا تُؤَاخِذْنَا إِنْ نَسِينَا أَوْ أَخْطَأْنَا رَبَّنَا وَلا تَحْمِلْ عَلَيْنَا إِصْراً كَمَا حَمَلْتَهُ عَلَى الَّذِينَ مِنْ قَبْلِنَا رَبَّنَا وَلا تُحَمِّلْنَا مَا لا طَاقَةَ لَنَا بِهِ وَاعْفُ عَنَّا وَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا أَنْتَ مَوْلانَا فَانْصُرْنَا عَلَى الْقَوْمِ الْكَافِرِينَ). (او الله هېڅ یو نفس نه مکلف کوي مګر د هغهٔ له وَس سره سم. د همده لپاره دي څه نېکی چې ده کــړي دي او په همدغه (نفس) باندې دي څــه (ګناهونه) چې ده کړي دي، اې زمونږه ربه! مونږ مه نیســه کــه مونږ (څه حکم) هېر کړو، یا مونــږ غلطي وکړو، اې زمونــږه ربه! او په مونږ باندې بوج مه ږده؛ لکه څنګه چې تا هغه (بوج) ایښــی و په هغو خلقو باندې چې له مونږ نه مخکې وو، اې زمونږه ربه! او پر مونږ باندې داســې څه مــه راباروه چې په مونږ کې د هغو (د اوچتولو) هېــڅ طاقت نه وي او مونږ ته معافي وکړه او مونږه وبخښه او پر مونږ رحم وکړه، هم ته زمونږ کارسازیې، نو د کافر قوم په خلاف ته زمونږ مدد وکړه﴾ سورت البقره 286285 آیتونه.

﴿قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ١﴾ الإخلاص: 1.

﴿(اې نبي!) ته (دوی ته) ووایه: شان دا دی چې الله یو دی﴾

﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلۡفَلَقِ ١﴾ الفلق: 1.

﴿ووایه (اې پیغمبره): زه پناه نیسم په رب د سبا پورې﴾

﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ١﴾ الناس: 1.

﴿ووایه (اې پیغمبره): زه پناه غواړم په رب د خلکو پورې﴾

ټول سورت درې ځلې ........................ السورة كاملة ثلاث مرات

«أعوذ بكلمات الله التامات من شر ما خلق» (ثلاث مرات)

"د الله په بشپړو کلمو سره پناه نیسم د هر هغه شي له شر څخه چې هغه پیدا کړي" درې ځلې.

«بِسْمِ اللهِ الَّذِى لاَ يَضُرُّ مَعَ اسْمِهِ شَيْءٌ فِي الأَرْضِ وَلاَ فِي السَّمَاءِ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ» (ثلاث مرات)

"د هغه الله په نوم چې ضرر نشـي رسولی د هغه له نوم سره هیڅ یو شی په ځمکه او نه په آسمان کې، او هغه اورېدونکی او پوهه دی" درې ځلې.

«رضيت بالله ربًّا وبالإسلام دينًا وبمحمد صلى الله عليه وسلم نبيًّا» (ثلاث مرات)

"زه پدې راضي یم چې الله مې رب، اسلام مې دین او محمد صلى الله عليه وسلم نبي دی" درې ځلې.

«أصبحنا وأصبح الملك لله والحمد لله لا إله إلا الله وحدة لا شريك له. له الملك وله الحمد وهو على كل شيء قدير. رب أسألك خير ما فى هذا اليوم وخير ما بعده. وأعوذ بك من شر ما فى هذا اليوم ومن شر ما بعده. ربِّ أعوذ بك من الكسل والهرم وسوء الكِبَر. وأعوذ بك من عذاب النار وعذاب القبر»

"مونږ د الله په نعمتونو کې سهار کړ، او پادشاهي په دوامداره توګه الله لره ثابته ده او الله لره ستاینه ده، له الله پرته بل معبود نشته، هغه یو دی، هېڅ شریک نه لري، د هغه لپاره پاچاهي ده او د هغه لپاره ستاینه ده او هغه پر هر څه قادر دی، زما ربه، زه له تا څخه د دې ورځې د خیر او لدې ورځې وروسته د خیر غوښتنه کوم، او زه پر تا د دې ورځې له شــر او لدې ورځې وروســته له شــر څخه پناه غواړم، زما ربه زه پر تا له سســتی، زوړوالي او نــاوړه بوډا توب څخه پناه غــواړم او زه په تا بانــدې د دوزخ له عذاب او د قبر له عذاب څخه پناه غواړم"

«أمسينا وأمسى الملك لله»

"او بیګاماهال به وایي: (أمسینا وأمسى الملك لله)، (مونږ د الله تعالی په نعمتونو کې بیګا کړ او پادشاهي الله لره ثابته او دوامداره ده)، او وایي: رب أسألك خير ما في هذه الليلة... ربه! زه پدې شــپه کې له تا څخه د هرې ښــېګنې سوال کوم... تر پای... یعنې بیګاماهال به د (أصبحنا و اصبح الملــک) پر ځای (امسینا و امسى الملک) و ایي، او د (هذا الیوم) پر ځای به (هذه اللیلة) وایې."

«اللهم بــك أصبحنا وبك أمسينا وبك نحيــا وبك نموت واليك النشور»

"یا الله! مونږ ســتا په نعمتونو او ساتنه کې ســهار کړ، او مونږ ســتا په نعمتونو او ساتنه کې بیګا کړ. او په هر حالت؛ ژوند او مرګ دواړو کې په تا پناه نیســو، او له مرګ نه وروسته ستا لورې ته بیرته پورته کېدل دي"

«اللهم بك أمسينــا وبك أصبحنا وبك نمــوت وبك نحيا وإليك المصير»

او بیګاماهال به وایي: "اې الله ســتا په نعمتونو او حفاظت کې مو بیګا کړ او ســتا په نعمتونو او حفاظت کې مو سبا کړ او د مړینې پر مهال او په ژوند کې پر تا پنا نیسم، او تا ته در ګرځېدل دي"

«اللهم ما أصبح بى من نعمــة أو بأحد من خلقك فمنك وحدك لا شريك لك فلك الحمد ولك الشكر»

"یا الله! ما؛ او ستا هیڅ مخلوق له یو نعمت سره ندی سبا کړی مګر دا چې یوازې ستا لخوا دی، ته شریک نه لرې، نو تا لره ستاینه او شکر دی"

«ما أمسى بى» ...او بیګاماهال بــه وایي: د (ما أصبح) پر ځــای به (ما أمسى بي) وایې.

«اللهم إنى أمســيت» ... او بیګاماهال به وایي: یعنې د (اللهم انی أصبحتُ) پر ځای به (اللهم إني أمسيت..) وایي. تر پای پورې.

«اللهم إنى أســألك العافية فى الدنيا والآخرة. اللهم إنى أسألك العفو والعافية فى دينى ودنياى وأهلى ومالى. اللهم استر عوراتى وآمن روعاتى. اللهم احفظنى مِن بين يدىَّ ومِن خلفى وعن يمينى وعن شمالى ومن فوقى. وأعوذ بعظمتك أن أُغتال من تحتى»

"یا الله زه له تا څخه په دنیوي او اخروي چارو کې د ساتنې سوال کوم، یا الله! زه له تا څخه زما په دین، دنیا، کورنۍ او مال کې د بخښنې او عافیت سوال کوم چې یعنې هر هغه څه چې ماته زما په دین، دینا، کورنۍ او مال کې ضرر رارسوي یا الله! زما عورت پــټ کړه، وېره مې لرې کــړه، اې الله! د مخې لخــوا، د شا لخوا، له ښــي طرفه، له چپ طرفه او له پاســه مې ساتنه وکړه؛، او زه ســتا په لویۍ پناه نیسم چې له لاندې طرفه تــرور شم"

«اللهم أنــت ربى لا إله إلا أنت. خلقتنى وأنا عبدك. وأنا على عهدك ووعدك ما استطعت. أعوذ بك من شر ما صنعت. أبوء لك بنعمتك على. وأبوء بذنبى. فاغفر لى. فإنه لا يغفر الذنوب إلا أنت»

"اې الله! ته زما رب یې، له تا پرته بل معبود نشته، تا زه پیدا کړی یم او زه ستا بنده